ورځپاڼه
# هیواد


مسئولين:

# د شاوخوا ۱۰۰ زرو مېرمنو حقونو ته رسېدنه شوې

د امربالمعروف، نهي عن المنكر او شكايتونو اورېدلو وزارت مسئولين وايي، چې د اسلامي امارت له بيا واكمنېدو راهيسې يې د شاوخوا ۱۰۰ زرو مېرمنو حقونو ته رسېدنه كړې ده . دوی زياتوي، چې په دې موده كې يې لسګونه زره شكايتونه ثبت كړي او شاوخوا ۲۵ زرو ته يې رسېدنه كړې ده. دغه‌راز په تېرو دريوو كلونو كې شاوخوا دوه زره كوډګر او جادوګر هم نيول شوي دي. د هېواد يو شمېر اوسېدونكي د ټولنې د اصلاح په موخه د ياد وزارت له كړنو، فعاليتونو او لاسته راوړنو خوښ دي. د ياد وزارت مسئولين ټينګار كوي، چې اسلامي امارت د ټولو هېوادوالو حقونو ته ژمن دی او د ټولنې د اصلاح په موخه دا وزارت هڅه كوي، چې خپل فعاليتونه لا ګړندي كړي.


مؤسس: عبدالرووف بېنوا    د تاسيس كال ۱۳۲۸ لمريز    **يكشنبه د ذوالحجة الحرام ۱۸ مه ۱۴۴۶ق كال،** د غبرګولې ۲۵ مه ۱۴۰۴ ل كال، د جون ۱۵ مه ۲۰۲۵ م كال، خصوصي ګڼه ۶۵ مه ، پرله پسې ګڼه ۷۲۸مه، اتمه دوره


شنونكي:

# له ګاونډيو او د سيمې هېوادونو سره د اسلامي امارت تعامل پراخ شوی



په دې وروستيو كې له ګاونډيو او د سيمې هېوادونو سره د اسلامي امارت د چارواكو سياسي تګ راتګ زيات شوی، افغان چارواكو په سيمه كې بېلا بېلو هېوادونو ته سفرونه كړي او همدا راز د نورو هېوادونو سياسي استازي او ډيپلوماټان كابل ته راغلي . دغه سفرونه د سياسي او اقتصادي اړيكو د پراختيا لپاره مهم بلل كېږي. د سياسي چارو شنونكي باور لري، چې سياسي راشه درشه كولی شي د افغانستان او سيمې ترمنځ شته واټن او توپيرونه راكم كړي او په سياسي او اقتصادي برخه كې د اتصال لپاره مهمې تګلارې رامنځته كړي. دوی زياتوي: له سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره د اړيكو ټينګښت د سيمې او افغانستان د ثبات لپاره مهم دی. د پوهنتون استاد فيض محمد ځلاند وايي: (( په دې وروستيو كې په سيمه كې د اسلامي امارت د مشرتابه له خوا ګڼې هلې ځلې پيل شوي، ترڅو سيمه كې همغږي رامنځته او له سيمې...

۳مخ

# مولوي نورجلال جلالي ايران كې د طبي همكارۍ پر هوكړه ليک خبرې وكړې

د عامې روغتيا وزارت سرپرست مولوي نور جلال جلالي ايران ته د خپل رسمي سفر په ترڅ كې په تهران كې له دوو مخكښو روغتونونو، د ماشومانو د ناروغيو د درملنې طبي مركز (مركز طبي كودكان) او د حكيم



روغتون له مسئولينو سره جلا جلا ليدنې كړې دي. ياد وزارت وايي: په دې ليدنو كې د هډوكو د مغز ټرانسپلانټ، نفرولوژۍ، زړه او نورو فوق تخصصي برخو كې د افغان روغتيايي كاركوونكو د روزنې او له دولتي روغتونونو سره د همكارۍ پر هوكړه ليک خبرې شوې دي.دواړو لوريو د دوه اړخيزو همكاريو، تجربو شريكولو او د افغان روغتيايي كاركوونكو د روزنې په برخه كې د همكاريو ډاډ وركړی دی. دا په داسې مهال ده، چې د عامې روغتيا وزارت سرپرست ايران ته د خپل رسمي سفر په ترڅ كې د دې هېواد د لوړپوړو چارواكو په ګډون له ګڼو روغتيايي مسئولينو سره ليدنې او كتنې كړې دي.

## د هېواد په ۱۴ولايتونو كې د اورښت اټكل!

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هواپېژندنې اداري نن ( يكشنبه )) د هېواد په ۱۴ ولايتونو كې د نسبتاً شديد اورښت اټكل كړی دی. د هواپېژندنې اداري پرون په يوه خبرپاڼه كې ويلي چې د جوزا ۲۵مه به د سالنګونو په ګډون بدخشان، تخار، نورستان، ننګرهار، كابل، پنجشير، پروان، بغلان، سمنګانو، سرپل، باميانو، غزني او د ميدان وردګو ولايتونه د اورښت او په ځينو سيمو كې د سېلابونو د راوتلو شاهدان وي ...

۳مخ

# افتتاح تعمير اطفائيه در ولسوالى اندخوى ولايت فارياب

تعمير جديد اطفائيه در كنار دارالمعلمين ولسوالى اندخوى ولايت فارياب با حضور الحاج حافظ نورالله انصار، رئيس مبارزه با حوادث وزارت امور داخله و نمايندگان قوماندانى امنيه فارياب، مسئولين محلى و محاسن‌سفيدان افتتاح گرديد. الحاج حافظ نورالله انصار در مراسم افتتاح اظهار داشت كه ولسوالى اندخوى، به‌دليل جمعيت زياد و موقعيت جغرافيايى خاص، نياز مبرم به يک مركز اطفائيه مجهز داشت. با تلاش‌هاى ...

ص۳

# تركيه كې افغانانو ته د پاسپورټونو وېشل پيل شول

په تركيه كې د افغانستان د اسلامي امارت سفارت اعلان كړی، چې له څلور كلن ځنډ وروسته، په ياد هيواد كې ميشتو افغان اتباعو ته د پاسپورټونو د وېش پروسه بيا پيل شوې ده. په تركيه كې د اسلامي امارت سفارت پرون په يوه خبرپاڼه كې ويلي چې دا پروسه له څلورو كلونو وقفې وروسته بيا پيل شوې او افغان اتباع كولی شي د خپلو پاسپورټونو د ترلاسه كولو لپاره د سفارت د قونسلګرۍ برخې ته مراجعه وكړي. د خبرپاڼې له مخې د



دې پروسې د بيا پيلولو موخه د افغان اتباعو بېرنيو اړتياوو ته ځواب ويل او د كډوالو لپاره د قونسلګرۍ خدماتو اسانه كول دي. دا په داسې حال كې ده چې په تركيه او ځينو نورو هېوادونو كې افغانانو ته د پاسپورټونو د وېشلو پروسه په ۲۰۲۱ كال كې د پخواني افغان حكومت له نسكورېدو وروسته ...


۳مخ

د كرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت:

# پر ۶۳۰ هكټاره ځمكه د پستې، بادامو، جلغوزيو او غوزانو ځنګلونه جوړ شوي

د كرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مسئولين وايي، چې په تېرو درېيو كلونو كې يې پر ۶۳۰ هكټاره ځمكه د پستې، بادامو، جلغوزيو او غوزانو ځنګلونه جوړ كړي دي .دوی زياتوي، چې د ځنګلونو د پراختيا په موخه يې څه باندې دوه ميليونه نيالګي كېنولي، چې زياتره يې ګټور دي ...

۳مخ



# ارزګان كې د هوږې ترويجي كرنې مثبته پايله وركړې

د ارزګان د كرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست چارواكي وايي، چې سږكال په دغه ولايت كې د هوږې ترويجي كرنې ښې پايلې وركړې او تمه كېږي چې له ياد كښت څخه به ۱۱،۵ ټنه حاصلات تر لاسه شي. د ياد رياست مطبوعاتي مسئول عبدالمنان فاروقي وايي، چې سږكال كروندګرو پر ۵،۵۸ هكټاره ځمكه د هوږې كښت كړی، چې حاصلات به يې د ارزګان د كورنيو اړتياوو د پوره كولو لپاره بسنه وكړي.: (( سږكال موږ په ۵،۵۸ هكټاره ځمكه باندې د هوږې كرنه لرو، چې كلنۍ حاصلات به يې ۱۱،۵ ټنه وي، چې دغه حاصلات به وكولای شي د ارزګان ولايت اړتيا پوره د نورو كرنيزو محصولاتو په پرتله ډېر ګټور ثابت شوی دی. يو تن كروندګر نصيب‌الله




كړي.)) بله خوا، كروندګر هم د هوږې له كركېلې خوښ دي او وايي، چې دغه كښت چې سږكال يې پر يو نيم جريب ځمكه د هوږې كرنه كړې، په دې اړه وايي: (( دا زما لومړی كال دی، چې د هوږې كرنه تجربه كوم. د خپل كور د اړتياوو لپاره مې دا كښت كړی، څكه نور ګټونه لكه غنم زموږ ټولې اړتياوې نه شي پوره كولای، خو هوږه د كور اړتياوې ښې پوره كوي.)) يو بل كروندګر رحمان‌الله هم د هوږې له كركېلې خوښ دی او په دې اړه داسې وايي: (( دلته خلكو مخكې غنم كرل، خو هغو دومره ګټه نه لرله. هوږه بيا ښه نرخ لري او له غنمو ډېره ګټه لري. كه سږكال حاصل ښه و، نو راتلونكي كال به بيا هم د هوږې كرنه وكړو.)) تمه كېږي چې د هوږې...

۳مخ

# باغدرې بند ته غځېدونكی سړک د بشپړېدو په درشل كې

د اوبو او انرژۍ وزارت وايي، چې د تګاب ولسوالۍ تر باغدرې برښنا بند پورې د ۸ كيلو متره سړک د جوړولو چارې ۷۵ سلنه پرمخ تللې دي. په كاپيسا كې د اوبو او انرژۍ رياست مسئولين وايي، چې د دغه سړک د جوړولو چارې څلور اوونۍ وړاندې پيل شوې وې او تر اوسه پورې ۷۵ سلنه پرمخ تللې دي.د ويلو وړ ده، چې ياد سړک د باغدرې برښنا بند ته د سروې تجهيزاتو د لېږد په موخه جوړېږي.



دا په داسې مهال ده، چې په هېواد كې په دې وروستيو كې د مركز په ګډون ګڼو ولسواليو كې د سړک جوړونې چارې دوام لري.

# هرات كې د تازه مېوو لپاره د مناسب بازار له نشتوالي شكايت



په هرات كې د مېوو د حاصلاتو راټولولو موسم په نږدې كېدو سره، باغ لرونكي وايي، چې حاصلات يې د تېر كال په پرتله د پام وړ زيات شوي؛ خو د ساتلو لپاره يې د مناسب بازار او معياري سړو خونو د نشتوالي له ستونزو سره مخ دي. دوی وايي، چې بازار ته د مېوو د يو ځل وړاندې كولو او د هغو د ساتلو لپاره د سړو خونو د نشتوالي له امله اړ دي، چې خپل حاصلات په ټيټه بيه وپلوري. په ګذره ولسوالۍ كې...

۳مخ

# بدخشان كې ۳ پلونه ګټې اخيستو ته وسپارل شول

د بدخشان ځايي مسئولين وايي چې د ياد ولايت په كران او منجان ولسوالۍ كې درې پلونه جوړ او ګټې اخيستنې ته سپارل شوي دي.د كورنيو چارو وزارت د ځانګړې پلې لوا د انجنيرۍ مدير مولوي نقيب الله فرقاني باختراطلاعاتي آژانس ته ويلي،



چې دغه پلونه د ياد وزارت په مالي ملاتړ د كران او منجان ولسوالۍ په لاجورد شو، راه زر او تګابک كې د شاوخوا يوې مياشتې په موده كې جوړ او ګټې اخيستنې ته سپارل شوي دي. نوموړي زياته كړې: لاجورد شو...

۳مخ

# سرلیکنه



## د ټرافيکي نظم لپاره د ګډ مسئوليت اړتيا!

له هغې ورځې چې اسلامي امارت د ټول افغانستان چارې تر خپل لاس لاندې راوستې، هېواد له جګړو، نا امنۍ او ګډوډۍ څخه د امن، ثبات او نظم په لور حرکت کړی. د اسلامي امارت د قوي ارادې او عملي اقداماتو له برکته، نن هېوادوال له وېرې پرته د ښارونو، کليو او ولايتونو ترمنځ ازادانه تګ راتګ کوي، خپل کاروبارونه پرمخ وړي او د تفريح او مېلو لپاره نورو ولايتونو ته سفرونه کوي . دا ټول د يو حقيقت څرګندونه کوي،امنيت بېرته راګرځېدلی او افغانستان د ثبات سا اخلي، خو له بده مرغه، د امنيت د دغه ستر نعمت تر سيوري لاندې يوه بله خاموشه، خو وژونکې پديده ورځ تر بلې زياتېږي ( ټرافيکي پېښې) دا پېښې، چې زياتره د بې‌احتياطۍ، د قانون د نه مراعاتولو، تخنيکي ستونزو او د ټرافيکي اصولو د ناديده نيولو له امله رامنځته کېږي، زموږ له ټولنې څخه هره ورځ قېمتي انسانان اخلي . د ټرافيک پوليسو د لوی رياست د معلوماتو له مخې، يوازې د تېر لوی اختر په څلورو ورځو کې ۱۱۷ ټرافيکي پېښې رامنځته شوي او له بده مرغه، په دغو پېښو کې زموږ ۴۳ تنه هېوادوال شهيدان شوي او ۱۵۸ نور ټپيان شوي دي. دا شمېرې د ژورې اندېښنې وړ دي. له شهيدانو څخه ۳۱ نارينه، ۲ مېرمنې او ۱۰ ماشومان او له ټپيانو څخه ۱۲۳ نارينه، ۱۱ ښځې او ۲۴ ماشومان دي، چې دا خپله د ټولنې بېلابېل قشرونه ښيي. سره له دې چې د ټرافيک پوليسو او امنيتي ځواکونو له لورې جدي تدابير نيول شوي وو، خلکو ته وخت پر وخت عامه پوهاوي ورکړ شوی و او د ټرافيکي اصولو مراعاتولو ته توصيه شوې وه؛ خو بيا هم د بې‌پروا موټر چلوونکو له امله دا خونړۍ پېښې رامنځته شوې. دا يوه واضح نښه ده، چې د ټرافيکي نظم په برخه کې لا هم جدي بدلون ته اړتيا ده، يو داسې بدلون چې له قانون سره موازي د ولس له هوښيارۍ او همکارۍ پرته ناشونی دی.

افغان حکومت دا وښوده، کله چې نيت پاک، اراده ټينګه او رهبري صادقه وي، نو امنيت راګرځي، جګړه ختمېږي، فساد له منځه ځي او ژوند ته بېرته فرصت ورکول کېږي. اوس دا مسئوليت د ولس دی، چې د همدې امنيت د دوام لپاره د ټرافيکي نظم برخه کې هم له حکومت سره اوږه ورکړي. رسنۍ، علماء، ښوونکي او د موټرو روزنځايونه بايد د دې خطر جدي ښه ولس ته ورسوي. همداراز، اړينه ده چې د قانون تطبيق لا پياوړی شي، د سرغړوونکو پر وړاندې بې پرې برخورد وشي او د سړکونو کيفيت، نښانونه او ټکنالوژيکي وسايل ښه شي. د اسلامي امارت له لوري امن راوستل شوی، خو د ژوند ژغورنه يوازې د امن راوستل نه دي، بلکې د قانون، نظم او مسئوليت حس هم پکې شامل دی. راځئ چې د خپلو ماشومانو، ميندو، پلرونو، خويندو او هېوادوالو د ژوند د خونديتوب لپاره، د ټرافيکي اصولو درناوی وکړو. دا زموږ ديني، وجداني او ملي مسئوليت دی.

# جنګ پيلوونکي که جنګ بايلونکي؟!

سالمزی

**سياسي تبصره**

دا يوه سخته وړاندوينه ده، چې يو څوک ووايي، جنګ پيلوونکي جنګ ګټونکي وي، خو موږ د تېرو څلورو لسيزو په لړ کې په خپل ګران او محبوب هېواد افغانستان او همدا رنګه په نړۍ کې روان نيابتي او استخباراتي جنګونه تجربه کړل او ومو ليدل چې څه پېښ شول. په ۱۳۵۸ هـ.ش کال چې کله زموږ پر هېواد د شوروي اتحاد سرو لښکرو يرغل وکړ، په مقابل کې يې افغان مؤمن او مېړني ملت په خالي لاسونو د وخت له دغه زبرځواک سره د جنګ ډګر ته ورودانګل، په داسې حال کې چې امريکا يې هم د مقابلې توان نه درلود او د منځنۍ اسيا او ختيځ جرمني په شمول يې ۲۶ هېوادونه تر خپل تسلط لاندې وو او پر افغانستان د يرغل پر مهال هم ورسره ملګري او شريک وو چې بالاخره د لس کلن جنګ او د افغانانو د کلک مقاومت په پايله کې له شرموونکې ماتې سره مخامخ شول. که څه هم په دغه نابرابره جنګ کې يو نيم ميليون افغانان په شهادت ورسېدل او همدارنګه شورويانو ته هم درانه ځاني او مالي زيانونه واوښتل، له ۳۵ زرو زيات روسي پوځيان مردار، په لسګونو زره ټپيان او څه دبره ۳۰۰ روسي عسکر او افسران د مجاهدينو په لاسونو اسير او ونيول شول. که څه هم دغه جنګ د روسانو له خوا پيل شو، خو پايله يې له شرمه ډکه ماتې او د جنګ بايلل شول او د حيرتان پله له لارې د تېښتې پرمهال په افغانستان کې د روسي قواوو قوماندان جنرال ګروموف په داسې حال کې چې افغانستان ته يې شا وه وويل: « پر افغانستان يرغل د روسي زمامدارانو لويه اشتباه او غلطه پريکړه وه، چې شوروي اتحاد يې له نه جبرانېدونکې زيان سره مخامخ کړ.» ورپسې امريکا چې د شوروي اتحاد ماتې ته يې شېبې شمېرلې او لا له مخکې په کمين کې وه، چې له يوې خوا افغانستان له جنګ څخه ستړی شوی او له شوروي اتحاد څخه هم يواځې روسيه پاتې ده او ګواکې نور د دوی د مقابلې ځواک او توان څوک نه لري، د ۲۰۰۱ ميلادي کال د سپټامبر د شپاړسمې جعلي دسيسې په پلمه پر افغانستان يرغل وکړ او د اسلامي امارت واکمني چې يو مشروع او د ملت په قربانيو رامنځ ته شوی نظام و هغه يې رنګ کړ او د خپلې خوښې په اصطلاح جمهوري نظام يې قايم کړ. افغان باتور او مېړنی ملت چې د غلامۍ له ژوند سره نااشنا او په هيڅ شکل د پرديو ځغ ته سر نه ټيټوي، د امريکا او ناټو په مقابل کې د جهاد لاره خپله کړه او د شل کلن اوږده جنګ او فدايي حملو په تاکتيک سره يې د امريکا او ناټو د مغرورو ځواکونو د غرور ښکرونه ورمات او له شرموونکې او حيرانوونکې ماتې سره مخامخ کړل، چې په پايله کې مجاهدين سر لوړي پلازمينې کابل ته داخل شول او اسلامي نظام حاکم شو. همدارنګه د ايران او عراق جګړه، د اوکراين او روسيې، د فلسطين او اسرائيلو ترمنځ جنګ، د سوريې او مجاهدينو جنګ، د لېبيا او يمن او عربستان جنګونه، او دا اوس د اسرائيلو او ايران نوی جنګ، چې اکثره د جنګ پيلوونکي د جنګ بايلونکي شول. زموږ په اند دا جنګونه به هم د جنګ پيلوونکو په ناکامۍ او جنګ بايللو پای ته ورسېږي. ان شاءالله

# د نشه يي توکو پر وړاندې کلکه مبارزه روانه ده

شاه محمود درويش

په هېواد کې د نشه يي توکو دمخنيوي، له منځه وړلو او هم د نشه يي توکو د کښت او قاچاق پرضد کلکه مبارزه روانه ده، همداشان د نشه يي توکو د قاچاق د مخنيوي لپاره هم په پرله پسې توګه هڅې روانې دي او د ۲۰۲۱ ز، کال په اګست مياشت کې واک ته له بيا رسېدو وروسته اسلامي امارت د نشه يي توکو يو زيات شمير قاچاق وړونکي نيولي اوبنديان کړي دي.

هيره دې نه وي چې د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه په هېواد کې د نشه يي توکو کښت، قاچاق ، پروسس او ترافيک په ټوليزه توګه بند کړي دي، ځکه نشه يي توکي په حقيقت کې د يو خاموش طوفان په څېر ټولنه له ګواښ سره مخامخ کوي او دا هغه ناوړه پديده ده چې په تدريج سره او بيا په ځانګړي توګه د ځوان نسل روغتيا او سلامتيا زيانمنوي او خوږ ژوند يې له اوږد مهاله رنځ، ناهيلي او مرګوني ګواښ سره مخامخ کوي، پردې بنسټ د دغې منفورې پديدې پر وړاندې د اسلامي امارت امنيتي ځواکونه تل نه ستړې کېدونکې مبارزه کوي او په خپله مبارزه کې هم تل هوډمن دي، لکه څنګه چې په دې وروستيو کې دهېواد په ۷ ولايتونو کې ۲۳ تنه د نشه يي توکو په تړاو نيول شوي دي، د کورنيو چارو وزارت له لورې ويل شوي، چې نيول شويو کسانو د نشه يي توکو په خرڅلاو، کارولو او قاچاق کې لاس درلود. البته دا کسان د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معينيت پوليسو په نيمروز، خوست، پنجشېر، ننګرهار، لغمان، بلخ او غزني ولايتونو کې له څه باندې ۲۴ کيلو ګرامو چرسو، ۱۹۷۷ عددو نشه يي ګوليو او ډول ډول نورو مخدرو موادو سره نيولي دي. ياده دې وي، چې د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو راهيسې د پخوا په پرتله د نشه يي توکو په وړاندې د هېواد په ټولو ولايتونو کې کلکه مبارزه روانه ده.

البته د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې اړوند موظف ارګانونه له شک پرته چې ګڼې لاسته راوړنې لري او د دې ناوړه



کاروبار پرضد يې، هڅې جدي دي او په دې برخه کې يې ګڼ شمير عمليات د نشه يي توکو د له منځه وړلو لپاره ترسره کړي دي او په راتلونکي کې به هم ورته اقدامات دوام ولري.

له شک پرته چې د نشه يي توکو پروړاندې د امنيتي ځواکونو مبارزه د قدر وړ ده، پاک الله (ج) دې لاهم د اسلامي امارت امنيتي ځواکونو ته توفيق ورکړي چې د نشه يي توکو قاچاقبران، پلورونکي او کاروونکي د هېواد په هره سيمه او ښار کې چې شتون لري ونيسي او د قانون منګولو ته يې وسپاري ترڅو له امله يې د ټولنې نظم او ثبات خوندي کړای شي.

د ويلو وړ ده چې ګاونډي او د سيمې هېوادونه هم بايد له افغانستان څخه د نشه يي توکو د قاچاق په اړه هيڅ اندېښنه ونه لري، بلکې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې له دولت او خلکو سره بايد دوامداره همکاري وکړي او د کوکنارو دبديل کښت په موندلو کې دې هم هراړخيزه مرسته وکړي.

همداراز د اسلامي امارت مسئول ارګانونه هم بايد د نشه يي توکو د کښت د بنديدو ترڅنګ د هغو بديل کښت ته ځانګړې پاملرنه وکړي او ترڅنګ يې په هېواد کې د کرنيز بهير پراختيا هم يولومړيتوب دی، ځکه په ټوليزه توګه د هېواد په سلو کې کابو اتيا سلنه خلک د کرنې، مالدارۍ او بڼوالۍ په چارو بوخت دي، نو په کارهم همدا ده چې د دغه بهير ودې اوپراختيا ته بايد ډېره پاملرنه وشي او د افغانستان اسلامي امارت د مسئولو ارګانونو له لوری بايد د هېواد په مرکز او ولايتونو کې قدرمنو بزګرانو ته د هراړخيزو آسانتياوو پر برابرولو سربېره په مناسبو وختونو کې د اصلاح شويو تخمونو او کيمياوی سرې مرستې هم وکړي، چې له امله يې دوی له خپلې کرکېلې څخه پريمانه حاصلات،غلې او دانې ترلاسه کړي چې له امله يې د دوی د اړتياوو د پوره کېدلو ترڅنګ په هېواد کې هم غلې دانې پريمانه شي، نو د اسلامي امارت د لومړيتوبونو پراساس اړينه ده چې په ټوليزه توګه د هېواد په ګوټ ګوټ کې پر کروندګرو په مناسبو وختونو کې اصلاح شوي تخمونه، کيمياوي سرې او لازم وسايل د اړوندو مسئولو مراجعو له لورې ووېشل شي، ځکه چې له قدرمنو بزګرانو سره هرراز مرسته د دې سبب کېږي چې هغوی په خپلو کروندو کې د حرام کښت يعنې د کوکنارو د کرکيلې پرځای حلال کښت ته مخه وکړي، البته لازمه هم ده چې قدرمن بزګران بايد په آګاهانه توګه دې ته وهڅول شي چې په خپلو مځکو کې د نشه يي توکو د کرکيلې پرځای حلال کښت ته مخه وکړي، ځکه چې نشه يي توکي د يو خاموش طوفان په څير ټولنه له ګواښ سره مخامخوي اودا واقعاً هغه ناوړه پديده ده چې په تدريج سره او بيا په ځانګړي توګه د ځوان نسل روغتيا او سلامتيا زيانمنوي او خوږ ژوند يې له اوږد مهاله رنځ ، ناهيلۍ او مرګونې ګواښ سره مخامخ کوي. پردې بنسټ د دغې منفورې پديدې پر وړاندې د دولت او ملت له لورې د هراړخيزې همکارۍ او همغږۍ له مخې کلکه او رښتينې مبارزه يو بيساری لومړيتوب دی، بايد چې په دې برخه کې ټول په ګډه خپل هېوادنی سترمسئوليت په ښه توګه ادا کړي.

# در استفاده از وقت باید کوشا باشیم، زیرا وقت گرانبهاتر از طلاست

مجتبی

وقت، زمان و عمر بدون تردید که ارزشمند ترین دارایی انسانهاست، چرا که هرگز قابل برگشت نیست و دوباره بر نمی گردد و به عباره دیگر وقت را نه میتوان به کسی داد و نه میتوان از کسی قرض گرفت. فقط می توان از زمان به نحو احسن استفاده کرد و ارزش وقت تنها دارایی مشترک میان انسانهاست که برخی درست از آن بهره می برند و حتی ثانیه ها برای شان ارزشمند است و در ثانیه ها موفقیت خود را مشاهده می کنند، وقت در واقع شیرازه حیات انسان را تشکیل می دهد. ارزش وقت از آنجا دانسته می شود که خداوند متعال در قرآن کریم سوره ای را بنام ((العصر)) فرستاده و در جاهای دیگر از زمان اشاراتی داشته است. در احادیث نیز داریم که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند: در روز قیامت از عمر انسان به طور عموم و از جوان به طور اخص پرسیده می شود که در چه راهی سپری شده و فرمودند: فراغت را قبل از اینکه مشغول باشی غنیمت بشمار. اولین و مهمترین وظیفه انسان مسلمان در برابر وقت خویش آن است که آنرا حفظ کرده و مراقب و مواظب آن باشد و باید بیشتر از مال از ارزش وقت مراقبت کرد، زیرا مال دوباره بدست می آید، ولی وقت بازگشت ندارد. دیده می شود که انسان‌ها در عرصه های مختلف زندگی از آن بصورت دوامدار فواید زیادی را بدست می آورند. تعدادی از انسانها نظر به استعداد های شان با بوجود آوردن اختراعات و اکتشافات همراه با علم و تخنیک مدرن برای بهتر زیستن شان در کره خاکی نیز نفع کسب کرده اند. به هر پیمانه ای که انسانها متوجه اهمیت وقت،زمان و عمر بوده به همان حد زندگی شان را در مسیر مثبت،پیشرفت و انکشاف استقامت داده و حیات خویش را نسبت به اندک زمان قبل در آسایش می‌نگرند. یک چیز کاملاً واضح و روشن است، هرقدر که به اهمیت وقت توجه گردد،آن ضایع نشود و به آن عمل شود، به همان پیمانه زندگی مرفه را نصیب می شوند و این زمینه آسایش را نه تنها برای خود میسر و مهیا میکند، بلکه برای تمام انسانها فراهم می سازند. دانشمندان و علما این واژه وقت و اهمیت آنرا چه زیبا و با ارزش بیان کرده و گفته اند «وقت گرانبهاتر از طلاست، زیرا با صرف وقت می‌توان طلا را بدست آورد، ولی دقایق تلف شده را نمی توان با طلا خرید» بناءً تاکید است به عموم هموطنان عزیز ما و بالخصوص به اشخاصی که در هر جا به هر کاری که مأمور و گماشته شده اند و به انجام آن مکلفیت و مسؤلیت دارند که بوقت و زمان ارزش داده و آنرا بیهوده از دست ندهند. در کشور های پیشرفته و مترقی جهان ثانیه را به هزار حصه تقسیم کرده و از هر قسمت آن کار گرفته اند، اگر آنرا با کشور خود مقایسه کنیم، آیا ما در کدام حدود به وقت و زمان ارزش میدهیم؟

اماافسوس در کشور ما جوانانی داریم که ثانیه را بجایش بگذار، بلکه ماه ها و سال ها وقت خود را بیجا تلف می کنند.حالا که اداره کشور بدست خود افغانها قرار دارد و افغانستان از اشغال امریکایی ها نجات یافته است. امیدواریم که با کار، تلاش و زحمات فراوان کشور خود را در قطار ممالک پیشرفته جهان از نظرسیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی برسانیم، از محتاجی کشور خود را نجات دهیم و برای زندگی بهتر اندیشه های نو و تازه را در اذهان افراد جامعه جاسازی کنیم، در هر گونه وظایفی که مسئولیت داریم باید کوشش و تلاش بخرج دهیم و وطن خود را آباد سازیم. بناءً برای هر فرد کشور لازم و ضروری است، اگر کارمند دولتی است یا کارمند سکتور خصوصی و یا در هر شغل دیگری که وظیفه دارند کوشا باشند تا از ضیاع وقت جلوگیری و خودداری کنند و از وقت استفاده درست نمایند تا مردم افغانستان از این بدبختی که میراث حکومت پیشین است رهایی یابند.

# افغان اعلانات


### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت همراز لمتید یک عراده موتر پلیت ۲-٦٩٧٤٤ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای صفی الله فرزند عنایت الله بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۷۲۹

### اطلاعیه

به اساس هدایت محکمه اختصاصی رسیده گی بر غصب زمین های امارتی زمین شهرک امید سبز واقع ناحیه ششم شهر کابل تحت تصفیه قرار دارد.

لذا از تمام اشخاص حقیقی و حکمی که در ساحات متذکره ادعای ملکیت دارند تقاضا به عمل می آید تا اسناد و مدارک مثبته شانرا الی ( ده یوم کاری) به دفتر هیات تصفیه نمبر سوم واقع ریاست اراضی ولایت کابل جوار مسجد حضرت علی کرم الله وجه مراجعه نموده اسناد مدار حکم زمینداری خویش را ارایه و خود همه روزه غرض تعقیب موضوع تصفیه حاضر باشند.

قابل یاد آوری است که پس از ختم مهلت معینه هیچگونه ادعای قابل بررسی و پذیرش نخواهد بود.۱۷۲٦

### اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک ۳٦ قلم اجناس و وسایل جمعی ضرورت ریاست ارتباطات ستراتیژیک و امور عامه برای سال مالی ۱۴۰۴.

**نوع قرارداد:**باالمقطع روش(داوطلبی باز داخلی). شماره داوطلبی: **وزارت دفاع ملی-۱۴۰۴-اجناس-۰۰٦۳-۲۵۲۰۴** اشتراک نموده و آفر های سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

**آدرس ومدت اخذ شرطنامه**:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم تقویمی به روز های رسمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات بشکل کاپی/سافت (CD)اخذ و همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلود نمایند .شماره تماس(۰۲۰۲٦۱۲۰۸٦).

**تضمین آفر: بشکل گرانتی بانک اخذ میگردد.**

| شماره | قول اردو | مقدار تضمین | واحد پولی |
|---|---|---|---|
| ۱ | **ریاست ارتباطات ستراتیژیک و امور عامه** | **200,000** | افغانی |

**نوت** : تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.

ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

**ضرب العجل تسلیمی آفرها و آفرگشائی**:از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

**محل آفرگشائی**:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک آفرگشائی.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفر اسناد تقاضا شده مندرج شرطنامه را تسلیم نمایند.


## له ګاونډیو او د سیمې ...

سره خپل توپیرونه راکم کړي، د اتصال بحث که هغه سیاسي دی که اقتصادي یا ټولنیز، پیاوړي کړي. په دې برخه کې هلې ځلې ډېرې مهمې او د ستاینې وړ دي او مونږ کولی شو د دې هلو ځلو له لارې له سیمې سره شته توپیرونه راکم کړو. دا هلې ځلې په لویه کچه نه یوازې د افغانستان بلکې د سیمې له ثبات او ټیکاو سره هم مرسته کوي.)) ځینې نور بیا وایي: د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ وروستیو سیاسي حرکتونو ته په کتو، د کابل سیاسي او اقتصادي اړیکې د لاپراختیا په حال کې دي. د سیاسي چارو شنونکي شهزاده مسعود وایي: (( زما په اند، کوم سفرونه چې په وروستیو کې د سیمې هېوادونو ته وشول، هم په سیاسي او هم په اقتصادي لحاظ له اهمیته برخمن دي. زه امېد لرم چې یوه متوازنه پالیسي له ټولې نړیوالې ټولنې سره په پام کې ونیول شي، ترڅو افغانستان د نړیوالې ټولنې د همکاریو په مرکز بدل شي.)) د کارپوهانو په اند، د هېوادونو په بلنه د افغان چارواکو سفرونه او مهمو سیمه ییزو سیاسي او اقتصادي ناستو کې یې ګډون د دې ښکارندویي کوي، چې اوس د سیمې هېوادونه دې پایلې ته رسېدلي، چې نور افغانستان ورته ګواښ نه دی. دوی له هېوادونو سره د اړیکو او تعامل د ټینګښت په برخه کې د اسلامي امارت بهرنۍ پالیسي بریالۍ یادوي، خو زیاتوي چې باید دغه هڅې لاپسې ګړندۍ شي . اسلامي امارت بیا تل ټینګار کړی، چې بهرنۍ سیاست یې اقتصاد محوره دي او له ټولو هېوادونو سره ښې او پر متقابل درناوي ولاړې اړیکې غواړي. د اسلامي امارت حکومت تل ډاډ ورکړی، چې له افغان خاورې به هېڅ هېواد ته ګواښ پېښ نه شي.

## افتتاح تعمیر اطفائیه ...

مشترک و پیشنهاد قوماندانی امنیه فاریاب، وزارت امور داخله این پروژه را تصویب و عملی ساخت. رهبری و قوماندان امنیه ولایت فاریاب، نیز از حمایت وزارت امور داخله قدردانی نموده و تأکید میدارد که قوماندانی امنیه به‌عنوان یک نهاد خدمتگذار، همواره در کنار مردم خواهد بود و برای رفع نیازهای امنیتی و خدماتی ولسوالی اندخوی تلاش خواهد کرد. افتتاح این تعمیر گام مهم در ارتقاء خدمات اطفائیه و تأمین امنیت ساکنان ولسوالی اندخوی و ولسوالی‌های همجوار محسوب می‌شود.

## ترکیه کې افغانانو ته ...

وځنډول شوه. تخنیکي ستونزې، په سیاسي نظام کې جوړښتي بدلونونه او د پاسپورټونو د چاپ او سپارلو پورې اړوند مسایل د ځنډ لاملونه بلل شوي. د دې پروسې په بیا پیل سره تمه کېږي چې په ترکیه کې میشت ډېر افغانان به وکولی شي خپل د هویت اسناد نوي یا یې ترلاسه کړي.

## د هېواد په ۱۴ولایتونو کې ...

د هواپېژندنې اداره په بېلابېلو سیمو کې د اورښت کچه له ۱۰ تر ۳۰ ملي مترو پورې اټکل کړې ده. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هواپېژندنې اداره همداراز په ختیځو، لوېدیځو او مرکزي ولایتونو کې د تېزو بادونو، خاورو او دوړو د پېښېدو خبرداري هم ورکړې چې سرعت به یې په یو ساعت کې له ۵۰ تر ۸۰ کیلو مترو پورې وي. د هواپېژندنې اداره پرون هم په یوه خبرپاڼه کې د نسبتاً شدید اورښت اټکل کړی و چې په ځینو سیمو کې خلکو ته مالي زیانونه هم اوښتي دي.د یادولو وړ ده چې په هېواد کې دا ډول اورښتونه د اقلیمي بدلون پایلې بلل کېږي.

## پر ٦۳۰ هکتاره ځمکه ...

د مسئو لینو په وینا، د ځنګلونو د ساتنې په موخه په ځنګلي سیمو کې دکورنیو چارو وزارت سره په ګډه ۱۲۰۰ کسیزه قطعه جوړه شوې او د سیمې له خلکو سره د ځنګلونو د ساتنې ټولنې رامنځته شوې دي. د کرنې برخې کارپوهان بیا د حکومت له لوري د طبیعي ځنګلونو جوړول د طبیعت د پاک ساتلو او ودې لپاره مهم ګام بولي. د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د نورو برخو تر څنګ د ځنګلونو ساتنې ته هم پاملرنه زیاته شوې، ترڅو هېواد مو زرغون او ښکلې طبیعت ولري. په تېرو وختونو کې د افغانستان ځنګلونه په ځانګړې ډول د کونړ نښتر د خلکو او زورواکو له لوري وهل کېدل او په ناقانونه ډول قاچاق کېدل، چې د اسلامي امارت په راتګ سره یې مخه نیول شوې ده.

## ارزګان کې د هوړې ترویجي ...

کرنه به نه یوازې د ارزګان د خلکو اړتیاوې پوره کړي، بلکې کروندګرو ته به هم ښه عاید برابر کړي. د کروندګرو په وینا، که حاصلاتو ته یې مناسب بازار پیدا شي، نو له نورو ټولو کښتونو به ورته ډېره ګټه وکړي.

## بدخشان کې ۳ پلونه ګټې ...

کلي کې جوړ شوي پل ۱۸ متره اوږدوالی، ٦ متره سور او ۱۵ متره لوړوالی لري، چې بدخشان له پنجشېر سره نښلوي او په جوړېدو سره یې د ۹ ولسوالیو د اوسېدونکو ټرانسپورټي ستونزې حل شوي دي. دغه راز په تګابک کې جوړ شوي پل ٦ متره اوږدوالی او ۵ متره سور لري. ده دغه راز زیاته کړې چې په راه زر کې جوړ شوي پل ۲۰ متره اوږدوالی او ٦ متره سور لري چې د نوي کانال پرسر جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د یادونې وړ ده، چې دغه پلونه کافي نه دي او دغه لاره ۸ نورو پلونو ته اړتیا لري، چې د رغولو چارې به یې ډېرژر پیل شي.

## هرات کې د تازه مېوو لپاره ...

یو تن باغ لرونکي وایي: (( سږ کال مېوې زیاتې دي، هر ډول مېوې شته، خو ښه بازار نشته، موږ یو کال خواري وکړو، خو د مېوو بیه ارزانه ده، موږ څلور کیلو مېوه په ۲۵ افغانۍ پلورو، موږ د مېوو د ساتلو لپاره سړې خونې هم نه لرو ترڅو خراب نه شي.)) د هرات ولایت یو بل باغ لرونکي فرهاد وایي چې د معیاري سړې خونې د نشتوالي له امله مېوې په کمه بیه پلوري. دی له مسئولو ادارو غواړي، چې د تازه مېوو د ساتلو لپاره معیاري سړې خونې جوړې کړي.: (( د مېوو بیه ډېره ارزانه ده، اوس مهال غوره شفتالو ۱۵ افغانۍ ده، ځکه چې موږ سړې خونې نه لرو، زموږ غوښتنه دا ده، چې حکومت سړې خونې جوړې کړي، ترڅو خلک هر وخت چې وغواړي مېوه واخلي او مېوې مناسبه بیه ولري.))له بلې خوا، د هرات د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي د باغ لرونکو د ملاتړ ډاډ ورکوي او زیاتوي، چې سږ کال د مېوو حاصلات د تېر کال په پرتله لس سلنه زیات شوي دي.

د دې ریاست د ترویج مدیر بشیر احمد احمدي وایي: (( له نېکه مرغه، سږ کال باغونه طبیعي آفتونو نه دي وهلي، د مېوو حاصلات د تېر کال په پرتله له ۵ څخه تر ۱۰ سلنې پورې زیات شوي دي. موږ د باغدارانو د ملاتړ لپاره جدي هڅې کوو، ترڅو د مېوو پلورلو فرصت او د سوداګریزې باغدارۍ فرصت دواړه چمتو کړو. په نږدې راتلونکي کې نورو هېوادونو ته د افغانستان د مېوو د صادراتو شاهدان یو.))د هرات ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست د معلوماتو له مخې: اوس مهال له ۲۷زره هکتاره څخه پر زیاته ځمکه د مېوو باغونه شته، چې په کې آلو، زردالو، شفتالو، انځر، منې او نورې مېوې شاملې دي.

## د اسرائیلو پر ضد ...

لا وړمه ورځ د ایران پر مهمو سیمو بریدونه وکړل، چې تهران هم وړمه شپه ځوابي بریدونه کړي دي.دغه راز، د لبنان المیادین رسنۍ خبر ورکړي، چې پر اسرائیلو د ایران بریدونو کې د اسرائیلو د اټومي تحقیقاتو مرکز په نښه شوی.المیادین ویلي، چې یو توغندی د تلابیب په یوه ستراتیژیکه سیمه کې لګېدلی، چې د صهیونیستي رژیم د اټومي تحقیقاتو مرکز ګڼل کېږي. یادې سرچینې نور جزئیات نه دي ورکړي چې دا مرکز څومره ویجاړ شوی دی.یاده دې وي، چې وړمه شپه ایران له اسرائیلو خپل غچ واخیست او ګڼې اسرائیلي سیمې یې د بالستیک توغندیو پر مټ په نښه کړې.

## پر سړکونو او پلیولارو ...

ژوبلېږي، زه خپله په بایسکل روان وم چې ناڅاپه مې سر پرې ولګېده او پر ځمکه ولوېدم، سر مې مات شو او لاس مې هم ژوبل شو، داسې څو ځله شوي دي؛ خو تېرو ځلو کې یې داسې ژوبل کړی نه وم او دا ځل یې ان تر روغتونه ورسولم، نو په کار ده چې په داسې ځای کې لوحې ولګول شي تر څو چاته ستونزې جوړې نه کړي او نه دومره ټیټې ولګول شي چې د خلکو په تګ راتګ کې ستونزې پیدا کړي.

د نوموړي په خبره: شخصي کمپنۍ د ګټې لپاره لوحې د خلکو د ګڼې ګوڼې سیمو کې لګوي تر څو ورته بازار موندنه وشي؛ خو د خلکو روغتیا ته یې فکر نه وي، نو دوی دې لوحې په سمو، د خلکو له پلیو لارو څخه لرې او مناسب ځای کې ولګوي تر څو خلکو ته ستونزې پیدا نه کړي.

یو بل هېوادوال خالد وایي: د ښار په ډېرو سیمو کې لوحې په غیر منظم ډول لګول شوي دي چې ډېرو هېوادوالو ته یې ستونزې پیدا کړي دي، زیاتره کسان چې سیمې ته نوي راشي او لارو سره بلد نه وي، ناڅاپه ورسره لګېږي او تر روغتونو یې رسوي، نو په کار ده چې د ګڼې ګوڼې له سیمو څخه دې لرې او په لوړ ځای کې ولګول شي تر څو نه د ماشومانو لاس ور ورسېږي او نه پر لاره تېرېدونکو کسانو ته ستونزې پیدا کړي.

په ورته مهال د کابل ښاروالۍ فرهنګي سلاکار نعمت الله بارکزی وایي: هڅه شوې ده چې په کابل ښار کې لوحې په منظمو ځایونو کې ولګول شي تر څو د ښار اوسېدونکو ته ستونزه پیدا نه کړي؛ خو بیا هم که چېرته نا منظمې وي، بې ځایه اېښودل شوي وي، د خلکو لپاره ستونزې پیدا کوي او جواز ونه لري، ور سره قانوني چلند کېږي او د اړتیا په صورت کې له منځه هم وړل کېږي، نو کابل ښار کې لوحې منظمې اېښودل شوي دي او که چېرته څوک له ورته ستونزې سره مخامخ وي او یا مخ کېږي، نو کولای شي چې شکایت ثبت کړي او ورته رسېدنه وشي.

زیارمل هوتک

## بلخ کې د وطني کولرونو ...

سړوي او د کولر د برق مصرف هم کم دی.)) ، (( دا وطني کولرونه چې دي، ارزانه دي، لوړ کیفیت لري، سامان یې همدلته په اسانۍ پیدا کېږي او اړتیا نلرو، چې له وارداتي کولره ګټه واخلو.)) بله خوا د بلخ د کسبګرو خونې رئیس، میرویس احمدي وایي، چې اوسمهال په مزارشریف ښار کې د وطني کولرونو لس کارخونې فعالې دي، چې په ورځني ډول لسګونه کولرونه تولیدوي.(( له نېکه‌مرغه په دې وروستیو کې په بلخ کې د اوبیزو وطني کولرونو کارخونې فعالیت لري، چې پلاستیکي او فلزي پوښ سره کولرونه جوړوي او بیا یې بازار او ښارونو ته وړاندې کوي. که خلک له دې صنعت څخه ملاتړ وکړي؛ ښایي راتلونکو کلونو کې دغه صنعت پراخ او نور هم وده وکړي.)) د یادونې وړ ده، چې اوبیز کولرونه د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په فلزي او پلاستیکي پوښ سره تولیدېږي، چې بیه یې ارزانه او لګښت یې کم دی.د ویلو وړ ده، چې اوسمهال یو وارداتي کولر له ۳ زرو تر ۵ زرو افغانیو پورې بیه لري، چې د وطني کولرونو په پرتله یې د برېښنا مصرف څو برابره لوړ دی.

## له شمال او لوېدیځ ...

ګرځېدلې ده. محمد امید، چې د کابل یو اوسېدونکی دی وایي: (( د هېواد پیسې زموږ ملي هویت دی او باید د ساتنې لپاره یې هڅه وکړو. تاسو ګورئ چې په اوسنیو شرایطو کې زموږ بانکنوټونه ډېر زاړه او خراب شوي دي.)) د اقتصادي چارو ځیني شنونکي خبرداری ورکوي که د افغانیو د زړېدو د مخنیوي لپاره یوه مشخص کړنلاره رامنځته نه شي، ښایي د هېواد اقتصاد ته جدي زیان واوړي.

دوی د مالي او بانکي سیستمونو ډیجیټلي کېدل یوازینۍ حلاره بولي. د اقتصادي چارو شنونکي، عبدالظهور مدبر بیا وایي: (( په اقتصادي جریان کې د زړو او خرابو بانکنوټونو شتوالي د مصرفوونکو او تولیدوونکو ترمنځ راکړې ورکړې ته ستونزې جوړوي. د دې خلا د لەمنځه وړلو لپاره باید په جدي ډول د برښنایي کېدو (ډیجیټلي کېدو) کار وشي.)) د اقتصادي چارو یو بل شنونکي، سیر قریشي هم وایي: ((که څه هم زړې پیسې ممکن یوه کوچنۍ موضوع ښکاره شي، خو دا کولای شي د خلکو عمومي باور او د پیسو د کارولو جریان کمزوری کړي..))د یادونې وړ ده، چې د زړو پیسو د راټولولو او سوځولو بهیر چې د افغانستان بانک له لوري عملي کېږي، تر دې دمه اغېزناک نه دی ثابت شوی، بلکې د افغانیو یوه لویه برخه د همدې ستونزې له امله تالا ترغۍ شوې ده.

## لغمان بلخ او فراه کې ...

ولایتونو کې لسګونه دښمنۍ او شخړې په دوستۍ بدلې شوې او پای ته رسېدلې دي.

په ورته وخت کې: د فراه د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت په پشترود ولسوالۍ کې د دوو کورنیو ترمنځ اوږدمهاله دښمني د ځایي مسئولینو، دیني عالمانو، قومي مشرانو او ولسي وګړو په هڅو پای ته ورسېده. د یاد ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد عبدالحی سباوون باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه دښمني ۱۸ کاله وړاندې د یاد ولایت د پشترود ولسوالۍ د نعاغ کلي د عبدالستار او عبدالله جان کورنیو ترمنځ د یو تن د وژل کېدو پرسر رامنځته شوې وه چې د علماوو شورا ریاست، د ځایي مسئولینو، علماوو او قومي مخورو په منځګړیتوب ورته د پای ټکی کېښودل شو.

همداراز دواړو خواوو ژمنه وکړه چې له دې وروسته به د ورونو په څېر ژوند کوي.

د یادونې وړ ده، چې په فراه کې وخت ناوخته دې ته ورته شخړې رامنځته کېږي، خو د ولایتي ادارې، دیني عالمانو او قومي مشرانو په هڅو حل کېږي.

## ایران و اسرائیل ...

باید پیروز شود.» این موضعګیري دبیرکل سازمان ملل، در حالي مطرح شده که تنش‌ها میان تهران و تل‌آویو وارد دومین روز خود شده است. حمله‌هاي هوايي اسرائيل به شماري از بخش‌هاي ايران، از جمله تهران،روز جمعه انجام شد.در همین حال، برخي رسانه‌هاي بين‌المللي نيز از ادامه‌ي حمله‌هاي موشكي ايران به بخش‌هايي از اسرائيل خبر داده اند.

## د ایران توغندیز بریدونه ...

توغندیزو بریدونو ته په اشارې ویلي:« زه مجبور شوم چې پنځه ځله پټنځي ته لاړ شم.» ایران وړمه شپه پر اسرائیلو لسګونه توغندیز بریدونه وکړل چې د ایراني رسنیو د راپورونو له مخې ځینې توغندي د اسرائیلو د پلازمېنې پر ځینو مهمو ودانیو لګېدلي دي. د ایران اسلامي جمهوریت پرون د اسرائیلو بریدونه ستره تېروتنه بللې وه او د پراخو ځوابي بریدونو خبرداری یې ورکړی و. د ایراني رسنیو د راپورونو له مخې تر دې دمه په اسرائیلو کې د درېوو کسانو وژنه او د لسګونو نورو ټپي کېدل تأیید شوي دي. دا بریدونه وروسته له هغې وشول چې وړم سهار اسرائیلو پر ایران بریدونه وکړل او د یو شمېر هېوادونو غبرګونونه یې راوپارول.

د ویلو وړ ده چې پر ایران د اسرائیلو د بریدونو له امله د یو شمېر لوړرتبه چارواکو په ګډون ځینې اټومي ساینسپوهان هم ووژل شول.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: ۲۵۲۶۳۴۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

یکشنبه د ذوالحجة الحرام ۱۸ مه ۱۴۴۶ق کال | د غبرګولې ۲۵ مه ۱۴۰۴ ل کال | د2025م کال د جون ۱۵ مه

# پنجشېر کې د ۱۲۰ پراختیایي پروژو چارې روانې دي



د پنجشېر د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د ۳۰۰ میلیونو افغانیو په ارزښت د څه باندې ۱۲۰ پراختیایي پروژو چارې روانې دي. دا پروژې چې د نړیوال بانک له لوري تمویلېږي د یاد ولایت په مرکز او ۷ ولسوالیو کې پلې کېږي. په دې پروژو کې استنادي دېوالونه، د اوبو شبکې، کانالونه، کلیوالي سړکونو جوړول او ګبیونونه شامل دي. د پنجشېر والي حافظ محمد اغا حکیم ویلي، چې سیمه‌ییزه اداره په پوره جدیت او ژمنتیا د عامه هوساینې او متوازنې پراختیا لپاره هڅې کوي او له همکارو بنسټونو سره په همغږۍ ګټورې پروژې جذب او پلې کوي. په دې پروژو کې زرګونو ځایي اوسېدونکو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

## ایران:
## د اسرائیلو پر ضد غچ‌اخیستونکي بریدونه به لا پراخ شي

د ایران د سپاه پاسدارانو لوړ پوړو چارواکو خبرداری ورکړی، چې پر اسرائیلي رژیم به



غچ‌اخیستونکي بریدونه نور هم پراخ شي او ټینګار یې کړی، چې په سیمه کې به هغه هېواد په نښه شي، چې د دې رژیم دفاع کوي. د ایراني رسنیو د راپورونو له مخې، د ایران له لوري پر اسرائیلو ورمه شپه په غچ‌اخیستونکو بریدونو کې له ۲۰ ډېر اسرائیلي لوړپوړي نظامیان او ساینسپوهان وژل شوي دي. دا په داسې مهال ده، چې صهیونیست رژیم... ۳مخ

# بلخ کې د وطني کولرونو کارونه غوړېدلي

د ګرمۍ هوا له رارسېدو سره هممهاله، د بلخ په مرکز مزارشریف ښار او ولسوالیو کې د خلکو لەخوا، د وطني اوبیزو کولرونو کارونه او ګټه اخیستنه زیاته شوې ده. د دې ولایت یو شمېر کولر پلورونکي وايي: د ګرمۍ هوا له امله، د کورونو د سړولو لپاره ډېر خلک له وطني کولرونو ګټه اخلي، چې د پخوا په پرتله یې د پېر، پلور او جوړولو کچه لوړه شوې. مزارشریف ښار کې یو تن کولر پلورونکی، محسن قاري‌زاده



وايي: دامهال یو وطني کولر، چې بېلابېل ډولونه لري، له ۸۰۰ تر ۱۵۰۰ افغانیو پورې بیه لري او په وینا یې، په ورځ کې تر شاوخوا ۱۵۰ کولرونه پلوري. (( تقریباً دا څو اوونۍ کېږي، چې د آبي یا اوبیزو کولرونو بازار زیات ګرم دی او د خرڅلاو ښه بازار لري. زه خپله شخصاً د ورځې له سلو تر ۱۵۰ پورې کولرونه خرڅوم، د هرځای خلک راځي او اخلي یې.)) په ورته وخت کې د بلخ یو شمېر اوسېدونکي وايي، چې وطني کولرونه د وارداتي کولرونو په پرتله باکیفیته، کم‌لګښته او ارزانه دي. د مزارشریف ښار اوسېدونکي، احمد منیر او رحیم شاه یې په اړه وايي: (( زه خپله اوسمهال یو ۶۰ لېتره کولر په کور کې لرم او ښېر متره خونه ښه سمه ... ۳مخ

## کابل ښاریان: پر سړکونو او پلیولارو بې نظمو لوحو له ستونزو سره مخامخ کړي یو

کابل؛ له ګڼې ګونې ډک ښار چې له اټکل شوي نفوسه څو برابره زیات وګړي په کې ژوند کوي، همدې چارې کابل ښاریان



د نورو ستونزو تر څنګ د شخصي کمپنیو سوداګریزو لوحو له ګڼو ستونزو سره مخامخ کړي دي. دوی وايي: لوحې ډېرې لویې او په مناسبو ځایونو کې نه دي لګول شوي، چې ډېر ځله د ښاریانو لپاره ستونزې پیدا کوي. حسیب وايي: له پلیولارو سره نږدې لوحې لګېدلي دي چې زیاتره وخت ورته فکر نه کېږي او د ښار اوسېدونکي پرې ... ۳مخ

# له شمال او لوېدیځ زونونو د ۱.۵ میلیاردو زړو افغانیو را ټولول

په راکړو ورکړو کې د زړو پیسو کارېدل، د افغانستان د مالي سیستم پر وړاندې جدي ننګونه ده.

د افغانستان بانک اعلان کړی، چې خلکو ته د اسانتیاوو لپاره د زړو افغانیو د راټولولو بهیر روان دی او یوازې د ۱۴۰۴ لمریز کال له پیل راهیسې، له شمالي او لوېدیځو زونونو له ۱.۵ میلیاردو افغانیو ډېر زاړه بانکنوټونه راټول او سوځول شوي دي. د دغه بانک ویاند، حسیب‌الله نوري وايي: (( د افغانستان بانک توانېدلی چې په روان ۱۴۰۴ کال کې له شمال او لوېدیځ زونونو یو اعشاریه پنځه میلیارده افغانۍ زړې او خرابې پیسې راټولې او وېې سوځوي. دغه بانکنوټونه د یوې ځانګړې تګلارې له مخې راټول شوي او له راکړې ورکړې څخه ایستل کېږي.)) په داسې حال کې چې افغانستان لا هم له هغو هېوادونو دی، چې ډېرې ورځنۍ راکړې ورکړې پکې په نغدو پیسو ترسره کېږي، د افغانیو یوه لویه



برخه د دوامداره کارونې له امله زړې شوي او ان د استفادې وړ نه دي. په وروستیو کلونو کې دا ستونزه د هېواد د مالي نظام او عامو خلکو لپاره یوه جدي ننګونه... ۳مخ

## آغاز پروژه ساخت چوک جدید در فاریاب

شاروالی شهر میمنه کار ساخت یک چوک جدید در گذر کوهی‌خانه ناحیه اول شهر میمنه مرکز ولایت فاریاب را آغاز کرده است. به گزارش خبرنگار آژانس باختر، در مراسم آغاز این پروژه، مفتی گل‌احمد مبشر، شاروال میمنه، گفته است: این چوک در مساحت ۴۰۰ متر مربع با طراحی پیشرفته شامل دو پارک معیاری در اطراف آن ساخته می‌شود. هزینه تطبیق این پروژه بیش از پنج میلیون افغانی است که از سوی حشمت‌الله آرمان، یکی از تاجران ملی کشور، پرداخت می‌شود.

همچنان شماری از باشندگان محل در این مراسم از سایر تاجران کشور خواستند که با الگو گرفتن از این اقدام خیرخواهانه، برای آبادی شهرها و ساختن آینده‌ی بهتر دست به کار شوند و در پروژه‌های عام‌المنفعه سهم بگیرند.


## مسئولین: لغمان بلخ او فراه کې ۵ دښمنۍ په دوستۍ بدلې شوې

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت په لغمان او بلخ ولایتونو کې د درېوو دښمنیو د پای ته‌رسېدو خبر ورکړی. د یاد وزارت په خبرپاڼه کې ویل شوي چې د لغمان د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو آمریت د دغه ولایت په «علیشنګ» ولسوالۍ کې ۲۲ کلنه دښمني پای ته رسولې ده. د سرچینې په وینا دا دښمني د یوې کورنۍ د څو غړو ترمنځ د میراث په خاطر رامنځته شوې وه. د خبرپاڼې له مخ بله ۱۷ کلنه دښمني د لغمان مرکز اړوند په «چهاردهي» سیمه کې پای ته رسول شوې ده. دا دښمني بیا د دوو کورنیو ترمنځ د شخړې لامل شوې وه او یو کس پکې وژل شوی هم و. د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت په




خبرپاڼه کې همداراز ویل شوي چې په بلخ کې هم د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب یوه درې کلنه دښمني پای ته رسېدلې ده. د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته په بېلابېلو... ۳مخ

## د ایران توغندیز بریدونه؛ «په اسرائیلو کې سخته شپه تېره شوه»



پر اسرائیلو د ایران له پراخو ځوابي بریدونو وروسته، په اسرائیلو کې د امریکا سفیر «مایک هاکبي» ویلي چې هلته خورا سخته شپه پرې تېره شوې ده. مایک هاکبي په ایکس‌پاڼه لیکلي چې ورمه شپه په اسرائیلو کې هر چاته امر شوی و چې په خپلو پټنځایونو کې پاتې شي. د امریکا سفیر د ایران ... ۳مخ

### انتونیو گوترش:
## ایران و اسرائیل باید حملات متقابل را متوقف کنند

انتونیو گوترش، دبیرکل سازمان ملل متحد، از ایران و اسرائیل خواست که به تبادل آتش پایان دهند.

گوترش، در اکس نوشته که «دیگر بس است.»او با اشاره به حمله‌هاي موشکي اسرائیل بر تاسیسات هسته‌اي ایران و پاسخ موشکي تهران به تل‌آویو، تأکید کرده که اکنون زمان توقف این وضعیت است.

دبیرکل سازمان ملل، در بخش دیگري از پیام خود خطاب به مقام‌هاي تهران و تل‌آویو، نوشته که «صلح و دیپلوماسي... ۳مخ

## بلخ کې د مېوو ۲۰۰ بڼونه جوړ شوي

د بلخ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وايي چې په روان کال کې د همکارو موسسو په مالي ملاتړ د یاد ولایت په یوشمېر ولسوالیو کې د مېوو ۲۰۰ بڼونه جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د یاد ریاست د کرنې د



ترویج مدیر محمد حسین عظیمي وايي، چې د روان کال په بهیر کې د همکارو موسسو په همکارۍ د یاد ولایت په چمتال، چهاربولک او بلخ ولسوالیو کې د مېوو ۲۰۰ معیاري بڼونه جوړشوي، چې شاوخوا ۲۵ سلنه یې د زردالو بڼونه دي.

په ورته وخت کې د دغه ولایت یوشمېر بڼوالو د دې بڼونو له جوړېدو خوښي ښودلې او ویې ویل: هغه مېوه لرونکي نیالګي چې کمو اوبو ته اړتیا لري ترویج کړي یې دي او له مسئولینو یې وغوښتل چې د اوبولګولو عصري او معیاري سیستمونو جوړولو ته جدي پاملرنه وکړي. باختر